**بسم الله الرحمن الرحیم**

**پاکستاني حکام په ښکاره له امریکا سره مخالفت کوي، خو په پټه کې د امریکا  ستراتېژي له ناکامۍ څخه ژغوري!**



**(ژباړه)**

د ټرمپ د لنډ مهاله نظامي مرستو د بندولو په غبرگون کې پاکستاني چاروکو  پر امریکایي ضد خبرو سربېره، بیا هم په پټه د ټرمپ له ادارې سره مرسته کوي، چې په افغانستان کې امریکایي ځواکونه له نږدې پېښېدونکې ماتې څخه وژغوري.د امریکا ددفاع وزیر جیمز ماتیس تایید کړه چې امریکا له پاکستاني چارواکو سره مستقیمې او نه پرېکېدونکې اړیکې لري. کله چې د ۲۰۱۸م د جنوري په ۵مه په یوه مطبوعاتي ناسته کې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر ادعا وکړه چې پاکستان له امریکا سره هېڅ راز اړیکې نه لري، جیمز ماتیس وویل: له پاکستان سره زموږ اړیکې زموږ د اړتیاوو د پوره کولو لپاره دوام لري.

جیمز ماتیس وویل: «جنرال جوزف واتل د پاکستان د پوځ له مشر جنرال باجوا سره ټلیفوني اړیکې لري او موږ د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره خپلو اړیکو ته دوام ورکوو.» کله چې ترې وپوښتل شول، ایا تاسو د هغو امریکایې

ځواکونو د حیاتي کرښې د بندولو په اړه چې د پاکستان له لوري سمبالېږي، اندېښمن یاست؟ په پوره ډاډ یې وویل:
« هېڅکله هم موږ د دې چارې اندېښمن نه یو»

د پاکستاني چارواکو او ټرمپ د ادارې تر منځ پټې همغږۍ ته په پام سره؛ دواړه هڅه کوي چې افغان طالبان د مذاکرې مېز ته راولي. د ټرمپ اداره اړ ده چې له امنیتي ټرون څخه کار واخلي ترڅو یې ځواکونه په دایمي توګه په افغانستان کې پاتې شي، له دې پرته مکلفه ده چې لکه د انګلیس او پخواني شوروي د امپراتورۍ په څېر شاتګ وکړي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

پاکستاني حکام موږ د امریکا په غندلو سره غولوي، په داسې حال کې چې د امریکا له مفسدو پوځونو سره چې د حاکمیت مانۍ یې د له منځه تللو په حال کې ده، مرسته کوي.

پاکستاني حکام په داسې امریکایي ضد څرګندونو سره غواړي د مسلمانانو قهر کم کړي؛ په داسې حال کې چې په ټول دقت سره د امریکایي ځواکونو د ژوغورلو لپاره له هغوی سره خپله نظامي ستراتیژي همغږې کوي چې هیڅ ډول وسله هم هغوی نه ګواښي. هغوی داسې کسان دي چې غواړي موږ په پرله پسې پر نجواکوونکو لوبو وغولوي؛ په داسې حال کې چې د امریکایي اشغالګرو ځواکونو د تګ او راتګ خط د دوی تر قوي کنټرول لاندې دی. هغوی د امریکا د شړلو پر ځای د هغوی د حضور د تقویت لپاره هڅه کوي. هغوی له دغو ټولو ویجاړیو او بدبختیو سره سره چې د امریکا د حضور له امله پاکستان ورسره مخ دی او په راتلونکې کې به هم ورسره مخ وي، بیا هم د دې خاورې د خلکو پر وړاندې خپل خیانت ته دوام ورکوي.

د پاکستان خاین چاروکي د داسې دښمن په څېر دي چې له خیات پرته بله تمه ترې نشته، له موږ سره خیات کوي او هر ډول بې رحمه جنایتونه یې زموږ پر وړاندې روا بللي، موږ یې تر ګواښ،سپکاوي او سختیو لاندې راوستلې یو، دغه چارواکي هغه کسان دي چې په ښکاره امریکا ته دښمن وایې او د اړیکو په مقطعي پرېکولو سره موږ غولوي، په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی په دې اړه ګواښ کوي:

﴿يخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا يَخْدَعُونَ إِلاَّ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُون﴾

[بقره: ۹]

***ژباړه:*** *هغوی فکر کوي چې الله سبحانه وتعالی او مومنان غولوي، په داسې حال کې چې له خپلو ځانونو پرته بل څوک نه غولوي او دقت نه کوی.*

دغه چارواکې هغه کسان دي چې زموږ له دښمنانو سره يې هوکړه کړې او يو ځل بيا هڅه کوي چې خپلې ژمنې ډېرې کړي په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی گواښ ورکوي:

**﴿سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا صَغَارٌ عِندَ اللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُوا يَمْكُرُونَ﴾**

[انعام:١٢٤]

***ژباړه:*** *ډېر ژر به هغه کسان چې گناه يې کړې او خلک يې له حق لارې منحرف کړي او پر وړاندې يې چل او فريب کوي، د الله پر وړاندې په حقارت او سخت عذاب کې راگير شي.*

دغه چارواکي هغه کسان دي چې د کفارو له دوستۍ او تړون څخه او له هغو دښمنانو څخه چې زموږ دين ته سپکاوی کوي لاس نه اخلي؛ هغه دښمنان چې له موږ مسلمانانو سره هر ځای جگړه کوي او له هغو کسانو سره چې زموږ مسلمانانو پر وړاندې جنگېږي، مرسته کوي، په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَىٰ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾**

[ممتحنه:٩]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی تاسو يوازې د هغو کسانو له اړيکې منع کوي چې د دين په چاره کې له تاسو سره جگړه کوي او تاسو يې له خپلو کورونو شړلي ياست او يا يې ستاسو په شړلو کې مرسته کړې او هر څوک چې له هغوی سره اړيکه ولري، له شک پرته ظالم دی!*

هغوی (کفار) ادعا کوي چې زموږ لپاره سوله او ثبات راولي، په داسې حال کې چې له هغوی سره د دوستۍ او تړون پايله فقر او نابودي راوړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿ مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ كَمَثَلِ الْعَنكَبُوتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ الْبُيُوتِ لَبَيْتُ الْعَنكَبُوتِ ۖ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ﴾**

[عنکبوت:٤١]

*ژباړه: د هغو کسان مثال چې له الله سبحانه وتعالی پرته بل څوک خپل ولي ټاکي، د داسې عنکبوت په څېر دی چې ځانته کورونه ټاکي، په داسې حال کې چې تر ټولو کمزوری کور د عنکبوت کور دی، که پوهېدلی!*

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

راځئ چې هغوی پرېږدو لکه موږ یې چې پرېښي یو او د هغوی د حاکمیت د له منځه وړلو لپاره د حزب التحریر له ځوانانو سره یوځای شئ.

پرېږدئ چې د هغوی طاغوتي حاکمیت په راشده خلافت بدل کړو چې پکې اسلامي حاکمیت پروت دی او له بل لوري د دنیا عزت او د اخرت اجر لاسته راوړو. په ریښتیا چې د نبوت پر منهج خلافت د مسلمانانو د ځواک ضمانت کوي. داسې قدرت چې د امریکا حضور ته به د پای ټکی کېږدي او هغوی به د مسلمانانو له سیمو شخه په ذلت سره وباسي. داسې قدرت دی چې د امریکا د سفارت دروازه به وتړي او د امریکا نظامي مرستې به بندې کړي او د امریکایي ځواکونو د راتګ کرښه به له منځه یوسي او د «ریموند ډیوید» خصوصي او نظامي اطلاعات به د مسلمانانو له ښارونو وباسي. داسې قدرت دی چې زیاتې زېرمې به د اسلام او مسلمانانو په چوپړ کې ورکړي. په پای کې وایم: خلافت داسې قدرت دی چې هڅه کوي د مسلمانانو اوسني ټوټه ټوټه قدرتونه پر یو نړیوال ځواک بدل کړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا﴾**

[نساء:١٣٩]

*ژباړه: هغه څوک چې د مسلمانانو پر ځای کافران خپل دوستان ټاکي. ایا ابرو او عزت له هغوی سره لټوي؟ یا دا چې ټول عزتونه الله لره دي؟!*

**اې د پاکستان مسلمان وسله والو پوځونو!**

دغو خاینو چاروکو کفارو ته د نږدې کېدو لپاره د محدودیتونو ټولې پولې ماتې کړې او اوس له هغوی سره د معاملې په درشل کې دي. هغوی هغه کسان دي چې تاسو د خپل دین او عقیدې پر دښمن پلوري او له کفارو سره

یې د ترون د تقویت لپاره ستاسو عزت تر پښو لاندې کوي او وینې مو تویوي؛ که تاسو یې پر وړاندې څه ونه کړئ، هغوی به دا کار وکړي. سره له دې چې له امریکا سره یې د تړون پایله له نابودۍ پرته بل څه نه ده، خو هغوی به بیا هم دا کار وکړي. سره له دې چې ً دغه جګړه د امت جګړه نه ده او د امریکا جګړه ده، خو هغوی به دا جګړه د اشغالګرو په استازیتوب پر مخ یوسي. دښمن (امریکا) د مسلمانانو د سیمه ییزو وسله والو ځواکونو پر وړاندې پاتې راغلې او له هغوی څخه سخته اندېښمنه ده؛ نو هېڅ فرصت نه لري چې ستاسو پر وړاندې ودرېږي. اوس د دې وخت رارسېدلی چې راویښ شئ، محافظه کاري نوره بس ده!

پوه شئ، هغه ځواک چې الله سبحانه وتعالی تاسو ته درکړی، کولی شئ په واسطه یې په احسن ډول له پاکستانه هر ډول ګواښ لرې کړئ. هغه څه چې له تاسو یې غوښتنه کېږي هغه دا دی چې باید هر ډول کړنه او پلان مو د الله سبحانه وتعالی لپاره وي او حزب التحریر (یوازیني آګاه او مخلص حزب) ته نصرت ورکړئ، ترڅو وکولی شي له دې لارې د نبوت پر منهج خلافت تاسیس کړي.

اوس ددې وخت رارسېدلی چې د حزب التحریر له مخلص کاروان سره یوځای شئ او (انصار) ورونه مو په یاد راوړئ او الګو یې ونیسئ، کله یې چې په مدینه کې د اسلامي دولت د تاسیس لپاره هر اړخیزه هڅه وکړه، لکه: سعد بن معاذ رضی الله عنه کله چې په شهادت ورسېد او مور یې د هغه په سوګ ژړلو او رسول الله صلی علیه وسلم ور ته وویل:

**«لِيَرْقَأْ - لینقطع - دَمْعُكِ وَيَذْهَبْ حُزْنُكِ لِأَنَّ ابْنَكِ أَوَّلُ مَنْ ضَحِكَ اللَّهُ إِلَيْهِ وَاهْتَزَّ لَهُ الْعَرْشُ.»**

***ژباړه:*** *اوښکې دې باید وچې او غم دې پای ته ورسېږي، ځکه زوی دې لومړنی کس و چې الله سبحانه و تعالی ورته خوشحاله شو او عرش یې لړزه کوي.*

**اې ورونو!** ایا د دې وخت نه دی را رسېدلی چې پورته شئ او د اسلامي دولت په تاسیس کې له موږ سره همغږي شئ؟

**حزب التحریر – ولایه پاکستان**

**۱۴۳۹هـ.ق، د جمادي الاول ۲۳مه**

**۲۰۱۸م، د فبروري ۹مه**

ژباړن: علي عمار